نظرمحمد مطمئن

۲۰۱۳/۱۲/۱۶

# د منډیلا او غفار خان د تګلوري معکوس حرکت
## او تر شایي پټ لاسونه

یو مسلمان د بل مسلمان ورور دی، هیڅ نارینه او یا ښځینه او هیڅ وګړی او قوم پر یو او بل برتري نه لري، د انسانانو تر منځ د ښه والي او غوره والي معیار یواځي تقوا او اسلامي اعتقاداتو ته ژمنتیا ګڼل کېږي
داهغه څه دي چې زموږ دین او مذهب یې لارښوونه او سپارښتنه کړې ده، په اسلامي اوکفري نړۍ کې تل هغه خلک ستایل شوي چې هغوی د تعصب پالنه نه ده کړې، مذهبي، قومي او سیمئیز افراطیت ته یې لمن نه ده وهلې.
تر ټولو نږدې مثالونه چې اوس یې زموږ ډیری ځوانان ستایې هغه د پښتون قوم خان غفار خان نوم ډیر په آنلاین رسنیو کې لیدل کېږي، دهغه په ویاړ پښتانه ځوانان له دې امله کنفرانسونه جوړوي چې سوله ایزه لاره یې غوره کړې وه، د دې له پاره یې ستایې چې ړوند تعصب او ړوند تقلید یې نه کاوو.
غفارخان له دې امله هم اوسنی قشر ستایي چې له ګاندي سره یې نږدې اړیکې درلودلې، که څه هم ګاندي یو هندو وو، او اسلام ته ژمن نه وو، ولي د دواړو مشرانو نظریات په ځینو ټولنیزو مسایلو کې یو وو، دواړو غوښتل چې د خپلو خلکو او ملتونو مشروع غوښتنې د سولئیزي لارې څخه لاس ته راوړې، داوړه مشران د تشدد او ناامنې مخالف وو.
نلسن منډیلا چې ټولې چاپې، ږغیزې، پرلیکه او انځوریزي رسنۍ یې پر آند او تګلارو خبري کوي، دهغه وړتیا بله نه وه، یواځې دا وه چې تعصبي چلند یې ختم کړی، هغه د قوم، پوست، سیمې او مذهبونو تر منځ د افراطیت په مقابل کې په سختو وختونو کې کلکه مبارزه وکړه، او په دې لاره کې یې زندان او زجر ومانه، خو خپله تګلاره یې پرینښودله، پایله داچې افریقا ته یې نوي ساه ورکړه.
دنلسن منډیلا له تعصبه پرته سولئیزه مبارزه وه چې دهغه د مرګ په ورځ یې د هغه مخالف او موافق ګړده اړ کړل چې د هغه درناوی اداء کړي، د امریکا ولسمشر هغه د نړۍ له پاره دروند شخصیت وګڼه او دهغه تګلاره یې وستایله په داسې حال کې چې په شمار ځوکلونه مخکې لا همدغه د دوی په ژبه دروند شخصیت د امریکا په تور لسټ کې شامل وو.
د برتانیا لومړی وزیر خو حتی خپل احساسات د یو لوی هیواد د لومړی درجه سړي په توګه قابو نه شوای کړای، او د نلسن منډیلا مینې د خپل هیواد د پارلمان تر پوښتنو ورساوه.
ټوله نړۍ لګیا ده، یو کېږي، تعصبونه له منځه وړي، د قومي، مذهبي او سیمئیزو تعصبونو د کموالي او له منځه وړلو له پاره ستراتیژیک پلانونه جوړوي، او ننۍ اروپا توانیدلې ده چې په خپلو هیوادونو کې قومي او سیمئیز تعصب او تشدد له منځه یوسي.
یواځې درېیمه نړۍ هیوادونه دي چې د پردیو د ګټو له پاره د پردیو په اشاره لاهم لګیا دی، د قومي، سیمئیز او مذهبي تعصبونو اور او افراطیت ته لمن وهي
روسان چې کله هم پوه شول چې په افغانستان کې شرمیدونکې ماتې سره مخ دي، کا جي بي په خپل ټول توان سره هڅه وکړه چې زموږ په ګران هیواد افغانستان کې قومي او سیمئیز تعصب ته هواء ورکړي، ترڅو افغان ولس په خپلو منځونو کې په جنګ اخته کړلای شي.
داچې د افغانستان تاریخي، کلتوري او دیني جوړښت الله ج داسي جوړ کړي چې د نړۍ دغه قدرتمنده استخباراتي کړۍ ونه توانیده چې زموږ د ملتونو تر منځ اور بل وساتلی شي دا هم دالله ج فضل او کرم بولو، که څه هم د لنډ مهال له پاره ځینو پردي پالو سیاسي مشرانو ځینې ناپوه ځوانان وکارولای شول چې د قوم او مذهب په نوم یې په ناروا جګړه کې ښکېل کړي.
کا جي بې خپل شوم اهداف ګورته یووړل، ونه توانیدل چې افغانان د پښتون، تاجک، هزاره، ازبک، ترکمن، نورستاني او بلوچ په نوم د یو اوبل په مقابل کې وجنګوي، دا ډول د ګاونډیو او سیمئیزو هیوادونو استخبارات هم ونه توانیدل چې افغان ولس د سني او شیعه په نوم د مذهبي افراطیت تر نوم لاندي وجنګوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

دامریکا د یرغل له پیله همدغه د کا جي بي نابشپړه پروژې د پلي کولو هڅي سي آی اې پیل کړي دي، د بن په لومړي کنفرانس کې یې د لومړي ځل له پاره زموږ حکومتي جوړښت چې د لیاقت او پوهې له مخې باید ټاکل شوی وای د قومي او مذهبي جوړښت له مخې یې د حکومت کابینه جوړه کړه.
په تیرو دولس کلونو کې ټول مهال هڅه شوې چې د قوم، سیمې او مذهب تر نوم لاندي وزیران، د ولسي جرګې او مشرانو جرګې غړي وټاکل شي، تر دې حده چې ولایتونه مو هم دهمدغه ناسم وېش قرباني شول.
تر ټولو وروستۍ بېلګه یې درې وزیران دي چې یو هم د مسلک او پوهې له مخې ونه ټاکل شول، یواځي د سیمې او قوم په نظر کې نیولو سره هرڅه ترسره شول، د کورنیو چارو وزیر چې په دې برخه کې پخوانۍ تجربه یې په نشت حساب ده، د بهرنیو چارو وزیر چې اصلاً د دغسې مهم پوسټ وړتیا حتی په دغه ډول مهم وزارت کې د دویم او دریم نمبر چوکۍ وړتیا هم نه لري، د اوبو او برېښنا وزیر چې بیخې په دغه برخه کې بلدتیا نه لري، دا ټول هغه څه دی چې موږ د پرمختګ، وروروليّ او یووالي پر ځای پاتي والي، او وېشلو ته بیايي.
د پیټریوس تجربې په عراق ښه کار ورکی، هلته یې د سني او شیعه په نوم د جنګ د پروژې پلان بشپړ کامیاب شو، کله چې له هغه ځایه افغانستان ته راغی، همدلته یې هم ورته هڅه وکړه، ولي له نیکه مرغه د سني او شیعه ترمنځ د جنګ پروژه او پلان یې کار ورنه کړ او دغه پلان یې ناکام شو، چې تر ټولو جوت مثال یې د مراد خاني چاودنه ګڼلای شو چې پر وخت یې د شیعه او سني امامانو له خوا مخه ونیول شوه، او د مرادخاني په چاودنه کې یې د استخباراتي کړیو لاس ولس ته روښانه کی.
د پیټریوس بل مهم پلان د اربکیانو په نوم قومي او سیمئیزي ملیشي جوړول وو، چې په دې برخه کې تر یوه حده د امریکا چارواکي او استخبارات وتوانیدل، ولي هغه ډول چې د دوی توقع وه هغسي لاسته راوړني یې ونه لرلي، او په ټوله کې د پلان شوو پاځونونو او اربکیانو څخه هم امریکا مایوسه ښکاري.
له څه مودې راهیسي د هویت په پاڼو کې دافغان کلیمې پر سره نانډرۍ رواني وي، چې دغه نانډریو په مشرانو جرګه کې ددغې جرګې غړي اړکړل چې یو بل د اوبو په بوتلونو وویلي، یو او بل ته ناسم الفاظ وکاروي.
زه د دې سخت مخالف یم چې دافغان کلمه دې د هویت پاڼو څخه لیرې شي، او که چیرته داکار کیږي، زما په آند تر ټولو ښه به داوي چې د دغو پاڼو د وېش مخه ونیول شي او په هیڅ ډول اجازه ورنه کول شي چې پاڼې توزیع شي.
داهم سمه نه بولم چې یواځي پښتون قوم دې د هویت پاڼو له اخستلو ډډه وکړي او بایکاټ دې ورسره وکړي، دایې د حل لاره نه ګڼم، ځکه زموږ د نورو قومونو خلک به یې واخلي او په راتلونکې کې به ستونزه وي، ټول هغه کسان چې د نړیوالو استخباراتو په دغه ډول کړنو پوهیږي باید چې د دغه ناوړه کار مخنیوی وکړي، زه ډیر خوشاله شوم چې یوه ملګري راته وویل چې د استخباراتو پخواني رئیس امرالله صالح د دې سره سخت مخالفت کړی چې دافغان کلمه دې په هویت پاڼه کې نه وي، هغه ویلې چې دازموږ هویت دی او د افغان کلمې ذکر په هویت پاڼه کې حتمي دی.
رمضان بشر دوست بله مهم ه او افغان ولس کې له نفوذه ډکه څیره ده چې د هزاره توکم سره تړاو لري، هغه دافغان کلمه د ځان او خپل قوم له پاره ویاړ ګڼي.
داچې په وروستیو ورځو کې ځینو کړیو زموږ د ځینو افغانانو په واسطه هڅې پیل کړي چې د پښتون قوم او نورو قومونو ترمنځ فاصله پیداکړي، د ر سنیو او بېلابېلو لارو قومونه د یو اوبل په مقابل کې وهڅوي، داهغه د کاجي بي زړه پروژه ده چې ناتکمیله پاتې شوه، اوس یې سي آی اې عملي کولو ته ملاتړلي ده.
تر ټولو بده داده چې زموږ ځینې روڼ آندي او حتی په ټولنه کې مطرح کسان د سي آی اې په دغه ناوړه جال کې راګیر شوې دي، که دغه ورونه ناخبره په دې پروژه کې کارول کیږي امید دی چې ځانونه ورڅخه وباسي او که چیرته خدای مه کړه د سي آی اې د پلان د عملي کولو برخه وي، نو دوی دې پوه شي چې تاریخ هیڅ څه نه پټوي، یوه ورځ به د دوی نومونه هم د افغان ولس سره د خیانت په تور لسټ کې راښکاره کیږي.
زه داهم ناسمه ګڼم چې کورنۍ رسنۍ دغې ناوړه پروژې ته اګاهانه او یا نااګاهانه کار وکړي، او زموږ ولس پر قومې، سیمئیز او مذهبی تعصب ووېښي، زه پوهیږم چې دهر قوم ځینې کسان له دې امله په غوسه دي چې د خپلو حقونو څخه بې برخې شوې دي، او ځینې وختونه له ناسم چلند سره مخ شوي.
زه پر دی هم پوهیږم چې په کابل کې پښتون قوم د واک، زور او نظام له کبله اوسمهال په اقلیت کې راځي او خپل حقونه ورته نه دي ورکول شوي، دا ډول زموږ تاجک ورونه هم ادعا لري چې د دوی حقوق خوړل شوي، او یواځي هزاره قوم دی چې سیاسي مشران یې لږ تر لږه قانع دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

کاشکی همدغه خلک چې نن په رسنیو او د خلکو په سره په غونډو کې د پښتون او یا تاجک په نوم کارولو سره د حقونو غوښتنه کوي، داسي وکړي چې همدوی او د دوی کورنۍ خپله یو دبل مقابله وکړي او زموږ ځوانان د دغې ناوړه پروژې د خامو موادو په ډول ونه کاروي.
زه باوري یم، چې نن هغه څوک چې د پښتون په نوم ډیري ناري وهي، هیڅکله به هغه خپل ځوی، خپل ورور او خپل نږدې ملګري ته اجازه ورنه کړي چې عملا له تاجک سره جګړه و کړي او یا ورسره مقابله وکړي، بلکه هڅه به یې داوي چې ځیني احساساتي پښتانه د پښتون په نوم وکاروي.
هغه تاجک چې ځان د تاجک د حقونو مدافع ګڼي او د تاجک د قوم په نوم معامله کوي، زه باوري یم، چې نه خپله، نه خپلې کورنۍ او نه خپلو نږدې ملګرو ته اجازه ورکوي چې عملا له پښتون سره جنګ وکړي او یا د دوی په اصطلاح د تاجک دحقونو د لاسته راوړلو له پاره مقابله وکړي، یواځي غواړی چې له دي لاري ځانونه مطرح کړي او ځیني ناخبره احساساتي تاجک ځوانان د سي آی اې د پروژې د خامو موادو په ډول وکاروي.
په ټوله کې د قومونو ترمنځ د بدبینې، اختلاف او جګړې قربانیان به بیا هم زموږ مظلوم او بیچاره افغان ولس وي، او سیاسي ګوډاګیان به له دي لارې خپلې کورنۍ تغذیه کوي او مالي ګټې به ترلاسه کوي.
زه پوهیږم چې د یو پښتون په توګه دغه ډول لیکنه به په دغو حساسو شرایطو کې مثبت او منفي غبرګونونه ولري، ولي ځان مسؤول ګڼم چې دنړیوالو استخباراتو له دغې ناوړه پروژې څخه تر ټولو لومړی پښتون او بیا ورونه قومونه خبرشي تر څو د نورو د ګټو قرباني نه شي.
داهم ویل غواړم چې زموږ د مشروع حقونو د ترلاسه کولو له پاره علمې او سوله ایزي لاري ولټول شي او دهغو لارو هڅه وشي چې خپل حقونه ترلاسه کړو.
یوه مهمه خبره چې غواړم له افغان حکومت او تاجک ورونو څخه غوښتنه وکړم، چې د جنرال طاقت نیول هم دغې پروژې ته لاډیره هواء ورکوي (زه د جنرال طاقت له ډیرو خبرو او نظریاتو سره موافق نه یم، د یو پخواني کمونسټ پلوه جنګي جنرال او د خاد د پخواني رئیس په سترګه ورته ګورم)، او کېدای شي ځیني پښتون ځوانان احساساتی غبرګون ته لاس کړي، ښه داده چې پردې مسئله نوره درنه ډېره کېښودل شي او جنرال طاقت چې پخښنه غوښتي همهغه کافي وګڼل شي (ویل کېږي چې د جنرال طاقت په کور کې تاجک توکمه میرمن ده، او دهغه لوڼې هم تاجک توکمو ته واده دي) او نور هغه هم له توقیف او د څارنوالي له څارنې څخه برائت ترلاسه کړي.
پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ